امارت اسلامی افغانستان
اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث
ریاست اطلاعات و نشرات

# هفته نامه مدیریت حوادث



۲۲ الی ۲۷ حمل ۱۴۰۵

## شماره یکصدو پنجاهم

### له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې لوی رئيس د افغانستان لپاره د ناروې سفارت د ټیم له مشر او مل پلاوي سره وکتل او په افغانستان کې یې د اقلیمي بدلونونو په اړه خبرې وکړې



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې لوی رئيس، محترم الحاج ملا نورالدین ترابي د افغانستان لپاره د ناروې هېواد سفارت د ټیم له مشر محترم سټین روزنبرګ او د یاد سفارت د لومړي سکرتر اولي کيرکواک سره په خپل کاري دفتر کې وکتل او په افغانستان کې یې د اقلیمي بدلونونو، د طبیعي پېښو د مدیریت او له امله یې زیانمنو ته د اغېزمنې رسېدنې په اړه خبرې وکړې.

په پیل کې محترم ترابي صاحب راغلي پلاوي ته ښه راغلاست ووېل او زیاته یې کړه چې دا مهال افغانستان له څلورو لویو ستونزو لکه...

ادامه در صفحه۲

### له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې لوی رئیس د ختیځ او ختیځ او ولایتي مسؤلینو سره غونډه وکړه



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې لوی رئيس، محترم الحاج ملا نورالدين ترابي، د ختیځ او ختیځ له مرکزي پلاوي او د کابل، ننګرهار، لغمان، کونړ او نورستان ولایتونو له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاستونو له مسؤلینو سره...

ادامه در صفحه۳

### له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې لوی رئیس د دایکندي ولایت له والي سره وکتل



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې لوی رئيس، محترم الحاج ملا نورالدين ترابي د دایکندي ولایت له والي محترم الحاج مولوي تورجان احمدي سره په خپل کاري دفتر کې وکتل...

ادامه در صفحه ۳

### له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د خوړو نړیوال پروګرام (WFP) ترمنځ تخنیکي غونډه ترسره شوه



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د خوړو_نړیوال_ پروګرام (WFP) ترمنځ د یادې ادارې په انګړ کې یوه تخنیکي غونډه ترسره شوه. په دې غونډه کې د یاد پروګرام د انکشاف مسؤله کېفیلیپو پومپیلي او د پلان د ډیپارټمنټ...

ادامه در صفحه ۴

@afghanistanndma | Afghanistanndma | andma.gov.af | 0202104926

# له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې لوی رئیس د افغانستان لپاره د ناروې سفارت د ټیم له مشر او مل پلاوي سره وکتل او په افغانستان کې یې د اقلیمي بدلونونو په اړه خبرې وکړې



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې لوی رئیس، محترم الحاج ملا نورالدین ترابي د افغانستان لپاره د ناروې هېواد سفارت د ټیم له مشر محترم ستین روزنبرګ او د یاد سفارت د لومړي سکرتر اولي کیرکواک سره په خپل کاري دفتر کې وکتل او په افغانستان کې یې د اقلیمي بدلونونو، د طبیعي پېښو د مدیریت او له امله یې زیانمنو ته د اغېزمنې رسېدنې په اړه خبرې وکړې.

په پیل کې محترم ترابي صاحب راغلي پلاوي ته ښه راغلاست وویل او زیاته یې کړه چې دا مهال افغانستان له څلورو لویو ستونزو لکه، وچکالۍ، له ګاونډیو هېوادونو څخه اجباري راستنېدونکي کډوال، سېلابونو او د داخلي بېځایه شویو سره مخ دی، چې په یادو برخو کې د نړیوالو او مرستندویه بنسټونو همکاریو او ملاتړ ته اړتیا لري او دوی باید ورته پاملرنه وکړي.

همدارنګه، نوموړي د طبیعي پېښو په برخه کې د ناروې هېواد د همکاریو ستاینه وکړه او له دوی څخه یې د نورو دوامداره مرستو او همکاریو غوښتنه هم وکړه او راغلي پلاوي ته یې د افغانستان د ولس د اړتیاوو او لومړیتوبونو لیست وسپاره.

ورپسې، د افغانستان لپاره د ناروې هېواد سفارت د ټیم مشر ښاغلي ستین روزنبرګ له محترم ترابي صاحب څخه د لیدنې د زمینې برابرولو په پار مننه وکړه او ویې ویل، چې د ناروې هېواد د افغانستان پخوانی دوست دی او دا مهال هم غواړي له دې هېواد سره د اقلیمي بدلونونو او طبیعي پېښو برخه کې خپلې مرستې او همکارۍ دوامداره وساتي، هغه زیاته کړه، چې موږ په پلان کې لرو ترڅو په افغانستان کې زیربنایي پروژې لکه چکډیمونه، استنادي دیوالونه او کانالونه جوړ کړو تر څو یې په واسطه د وچکالیو مخه ونیول شي همدارنګه نوموړي زیاته کړې، چې د ناروې هېواد له افغانستان سره د تلپاتو همکاریو د کولو ترڅنګ ژمن دی، چې نور نړیوال ډونران هم له افغانستان سره همکاریو ته وهڅوي.

په پای کې، دواړو لوریو د اقلیمي بدلونونو د اغېزو کمولو او طبیعي پېښو ته د رسېدنې په برخه کې د دوه اړخیزو همکاریو پر پراختیا او د اړیکو پر لا پیاوړي کولو ټینګار وکړ.

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې لوی رئیس د څېړنې او څارنې له پلاوي او ولایتي مسؤلینو سره غونډه وکړه




له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې لوی رئیس، محترم الحاج ملا نورالدین ترابي، د څېړنې او څارنې له مرکزي پلاوي او د کابل، ننګرهار، لغمان، کونړ او نورستان ولایتونو له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاستونو له مسؤلینو سره یوه آنلاین غونډه ترسره کړه.

په دې غونډه کې، د مرکز له لوري استول شوي پلاوي د خپل کاري سفر راپور، چې د ولایتي ریاستونو د فعالیتونو د څېړنې او څارنې په موخه ترسره شوی و، وړاندې کړ. په دې راپور کې د ولایتي ریاستونو کاري وضعیت، ننګونې او لاسته راوړنې وارزول شوې او د کارونو د ښه والي لپاره اړین وړاندیزونه وړاندې شول.

همدارنګه، له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې لوی رئیس، د لا ښې همغږۍ، طبیعي پېښو ته د چټکې رسېدنې او د ولایتي ظرفیتونو پر لوړولو ټینګار وکړ او اړونده مسؤلینو ته یې لازمې لارښوونې وکړې.

په پای کې، د ادارې لوی رئیس د ستونزو او ننګونو پر حل ټینګار وکړ او په دې برخه کې یې مسؤلینو ته لازمې لارښوونې وکړې.

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې لوی رئیس د دایکندي ولایت له والي سره وکتل

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې لوی رئیس، محترم الحاج ملا نورالدین ترابي د دایکندي ولایت له والي محترم الحاج مولوي تورجان احمدي سره په خپل کاري دفتر کې وکتل.




په پیل کې محترم ترابي صاحب د دایکندي ولایت والي صاحب ته د ښه راغلاست ترڅنګ د دایکندي ولایت د خلکو د ستونزو او اړتیاوو په اړه په خپلو خبرو کې وویل، چې هر کال په یاد ولایت کې بېلابېلې طبیعي پېښې رامنځته کېږي نو اړینه ده ترڅو په یاد ولایت کې د لومړیتوبونو له مخې وقایوي پروژې پلي شي او دا اداره تل هڅه کوي چې له خپلې بودجې او هم د موسسو له لارې خلکو ته اساسي خدمتونه وړاندې کړي، هغه زیاته کړه چې دا اداره ژمنه ده چې په ټول هېواد کې مستحقو خلکو ته پر وخت رسېدنه وکړي او په ټولو ولایتونو کې د طبیعي پېښو د خطرونو کمولو لپاره له موسسو سره په ګډه فعالیتونه ترسره کوي.

د دایکندي ولایت والي محترم الحاج مولوي تورجان احمدي د یادې ناستې قدرداني وکړه او ویې ویل چې دا ولایت د جغرافیایي موقعیت له امله هر کال له بېلابېلو طبیعي ګواښونو سره مخ وي، نو وقایوي پروژې د خلکو حیاتي اړتیا ده. نوموړي ژمنه وکړه چې ولایتي اداره به د ځمکو د تثبیت، تخنیکي همغږۍ په برخه کې بشپړه همکاري وکړي،تر څو پروژې په شفاف او اغېزمن ډول عملي سي.

په پای کې دواړو لوریو د خلکو ستونزو او اړتیاوو ته د رسېدنې او د پېښو مدیریت په فعالیتونو کې د همکاریو او همغږۍ پر پیاوړتیا ټینګار وکړ.

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د خوړو نړیوال پروګرام (WFP) ترمنځ تخنیکي غونډه ترسره شوه

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د خوړو_نړیوال_پروګرام (WFP) ترمنځ د یادې ادارې په انګړ کې یوه تخنیکي غونډه ترسره شوه. په دې غونډه کې د یاد پروګرام د انکشاف مسؤله کېفیلیپو پومپیلي او د پلان د ډیپارټمنټ مرستیال شارلټ لټیمر ګېون درلودی چې د یادې ادارې د بشري مرستو د همغږۍ څرنګوالي او د ستراتیژیک پلان د ارزونې په اړه بحث او د نظرونو تبادله وشوه.



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې د تخنیکي کمېټې مسؤل، محترم برهان الدین شینواري ډاډ ورکړ، چې دا اداره د بشري پروګرامونو د پلي کېدو په برخه کې شفافیت او چټکتیا ته ژمنه ده او زیاته یې کړه چې په هېواد کې ټولې بشري مرستندویه بنسټونه باید د غوره پایلو د ترلاسه کولو لپاره خپل فعالیتونه په ګډه او همغږۍ سره پر مخ یوسي.

وروسته، د خوړو نړیوال پروګرام پلاوي د روان وضعیت، بشري پروګرامونو او راتلونکو پلانونو په اړه معلومات وړاندې کړل او د اړمنو کسانو د دقیقې پېژندنې په برخه کې یې له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې رول او همکارۍ حیاتي او ارزښتناکې وبللې.

همداراز راغلي پلاوي وویل چې موږ د مقدماتي ارزیابۍ لپاره راغلي یو چې یوه اونۍ به دوام وکړي او د روان کال په جولای میاشتې کې به په ولایتونو کې تفصیلي ارزیابي وسي.

په پای کې، دواړو لورو د ګډو بشري همغږیو پر دوام او پیاوړتیا ټینګار وکړ او غونډه په بشپړې هوکړې سره پای ته ورسېده.

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې لوی رئیس د کابل ولایت د سروبي ولسوالۍ د علماء کرامو، قومي مشرانو او متنفذینو سره وکتل



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ  ملي ادارې لوی رئیس محترم الحاج ملا نورالدین ترابي د کابل ولایت د سروبي ولسوالۍ د اوزبین کلي د علماء کرامو، قومي مشرانو او متنفذینو سره په خپل کاري دفتر کې وکتل.

په دې لیدنه کې د سیمې اوسېدونکو د سیلابونو له امله د رامنځته سویو ستونزو یادونه وکړه او ویې ویل چې یو مهم سړک د سیلابونو له کبله بند سوی دی، چې خلکو ته یې ګڼې ستونزې جوړې کړې دي او قومي مشرانو د یادې ادارې د رهبرۍ څخه وغوښتل چې د یاد سړک په پرانیستلو کې همکاري وکړي.

وروسته، محترم ترابي صاحب راغلو  علماء کرامو، قومي مشرانو او متنفذینو ته ښه راغلاست ووایه او زیاته یې کړل چې موږ تل هڅه کوو چې خلګو ته غوره او پر وخت خدمتونه وکړو.

همداراز د ترابي صاحب له لوري د یاد سړک د بېرته پرانیستلو لپاره د ۱۵۰۰ لیټره تیلو مرسته وکړل، چې د سروبي د لیوا د ماشینرۍ په توسط به یاد سړک بیرته پرانیستل سي.

راغلو علماء کرامو، قومي مشرانو او متنفذینو د یادې ادارې د لوی رئیس څخه ځانګړې مننه وکړل او د یادې ادارې د کارونو ستاینه وکړل.

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې د تخنیکي کمېټې له لوري د رضاکارانو د چارو د سمون په موخه درې اړخیزه غونډه وشوه



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې تخنیکي کمېټې، د کډوالۍ نړیوال سازمان (IOM) او رها موسسې ترمنځ درې اړخیزه تخنیکي غونډه ترسره شوه، چې موخه يې د رضاکارانو د چارو ښه تنظیم او همغږي وه.
په دې ناسته کې د رضاکارانو د ظرفیت لوړولو، د پېښو د خطرونو د مخنیوي او همدارنګه هغوی ته د مسلکي زده کړو د برابرولو په اړه هر اړخیز او مفصل بحث وشو.
ګډونوالو د یادو برخو د پیاوړتیا لپاره لازم وړاندیزونه او نظریات شریک کړل او د عملي اقداماتو پر اړتیا يې ټینګار وکړ. همداراز پرېکړه وشوه چې د رضاکارانو د اغېزمن فعالیت لپاره به ګډې همغږۍ لا پیاوړې شي، تر څو د پېښو پر مهال چټک، منظم او اغېزناک غبرګون یقیني شي.

## سیمینار یک‌روزه آگاهی‌دهی برای رضاکاران در ولایت سمنگان برگزار شد




ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت سمنگان، سیمینار یک‌روزه آگاهی‌دهی و ورکشاپی را برای جلب و جذب رضاکاران برگزار کرد.
این برنامه با تلاوت آیاتی از قرآن کریم آغاز شد و سپس مولوی احسان‌الله احسان، رئیس ریاست آمادگی مبارزه با حوادث سمنگان، ضمن خوش‌آمدگویی به هیأت مرکزی و رضاکاران، بر اهمیت نقش رضاکاران در مدیریت حوادث تأکید کرد.
در ادامه، سمیع‌الله حیات، آمر سیستم ملی معلوماتی مدیریت حواد (NDMIS) و رضاکاران، پیرامون موضوعات مختلف مرتبط به رضاکاری و فعالیت‌های اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث صحبت نمود.
در پایان برنامه، اشتراک‌کنندگان رضاکار، مسئولان و کارمندان ریاست با ابراز خرسندی از برگزاری این سیمینار، از رهبری اداره ملی و برگزارکنندگان قدردانی کرده و تعهد همکاری و خدمت‌رسانی بیشتر را سپردند.

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې اوونیزه اداري غونډه ترسره شوه




د وزیرانو شورا د ۱۴۴۳/۵/۱۶نېټې د (۱۵) ګڼې مصوبې د ۱ مادې پر بنسټ، له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې اوونیزه اداري غونډه د دې ادارې د لوی رئیس محترم الحاج ملا نورالدین ترابي په مشرۍ او د مرکزي رئیسانو په ګډون د دې ادارې په انګړ کې ترسره شوه.
غونډه د قران کریم د څو مبارکو آیتونو په تلاوت سره پیل شوه.
وروسته د اجنډا په هره موضوع په جلا جلا ډول هر اړخیزه بحث وشو او د غونډې د ګډونوالو نظرونه په وار سره راټول شول.
د غونډې په پای کې  داجنډا پر ټولو موضاعوتو باندی لازم تصمیمونه ونیول سول.


## د غزني ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د سېلابونو له امله د زیانمنو سیمو سروې پیل کړې



د غزني ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د همکارو موسسو په همکارۍ د یاد ولایت په بېلابېلو سیمو کې د وروستیو بارانونو او سېلابونو له امله د زیانمنو سیمو د سروې لړۍ پیل کړې ده، د لومړنیو معلوماتو له مخې، یو شمېر استوګنیز کورونه، کرنیزې ځمکې، باغونه او د اوبو سرچینې زیانمنې شوې دي.
د یاد ریاست د مسؤلینو په وینا، د سروې او ارزونې ټیمونه په مرکز او ولسوالیو کې خپلې چارې روانې کړې دي او د بشپړو معلوماتو له راټولېدو وروسته به زیانمنو کسانو ته د مرستو رسولو پروسه د همکارو بنسټونو په همغږۍ ترسره شي.

## در ولسوالی جلریز ولایت میدان وردک، ۱۰۰ متر سرک مسدود شده بازگشایی شد

به هدایت مقام اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث، ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت میدان وردک، ۱۰۰ متر سرک مسدود شده را که از اثر لغزش کوه در ساحه راقول مربوط حوزه سنگلاخ ولسوالی جلریز آن ولایت بسته شده بود، دوباره به روی وسایط نقلیه باز نمود.
برای بازگشایی دوباره این سرک، ریاست آمادگی مبارزه با حوادث یک عراده ماشینری جی‌کمر را به کرایه گرفته و برای ماشینری ریاست فواید عامه تیل خریداری کرده بود که با این اقدام، مشکلات رفت‌وآمد باشندگان محل و وسایط نقلیه حل گردید.
مولوی احمد شاه ذهین، رئیس آمادگی مبارزه با حوادث ولایت میدان وردک تأکید کرد که برای رسیدگی به مشکلات مردم آن ولایت به‌موقع اقدام می‌کنیم تا مشکلات آنان هرچه زودتر حل شود.



## د فراه ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۳۰۰ اجباري راستنېدونکو کورنیو ته نغدي مرستې وویشلې



د فراه ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د رازي موسسې په مالي همکارۍ، له ګاونډیو هېوادونو څخه په اجباري ډول راستنېدونکو او د یاد ولایت د مرکز په پنځمې او شپږمې ناحیه کې مېشتو ۳۰۰ کورنیو ته له سروې وروسته نغدي مرستې وویشلې.
په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته د مسؤلینو په شتون کې، ۵,۱۶۰ افغانۍ وویشل شوې، چې د نغدو مرستو ټولیزه اندازه یو میلیون او پنځه سوه او اته څلوېښت زره (۱,۵۴۸,۰۰۰) افغانۍ کیږي.

## در ولسوالی بغلان مرکزی ولایت بغلان مهمات منفجرناشده کشف و خنثی گردید



ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت بغلان در هماهنگی و همکاری با موسسه ماین‌پاکی MCPA با حمایت مالی (STFA) UNDP، در قریه غلام‌بیک مربوط ولسوالی بغلان مرکزی آن ولایت، یک‌صد و بیست‌ودو میلی‌متری مرمی‌های توپ به تعداد ۲۶ فیر که از جنگ‌های گذشته باقی مانده بود، کشف، به‌گونه مصون انتقال و از بین برده شد.
این مرمی‌ها پس از اطلاع‌دهی باشندگان محل و در همکاری با قوماندانی امنیه ولسوالی بغلان مرکزی، توسط تیم MCPA-QRT-۰۱ تثبیت گردیده و بعداً با رعایت تمامی اصول تخنیکی در یک انفجار کنترول‌شده از بین برده شد که با نابودی این مهمات منفجرناشده، از خسارات احتمالی جانی و مالی باشندگان محل جلوگیری به‌عمل آمد.
ریاست آمادگی مبارزه با حوادث از تمام مردم تقاضا می‌نماید که در صورت مشاهده مهمات منفجرناشده و ماین‌ها، موضوع را هرچه عاجل به ادارات مربوط اطلاع دهند تا از وقوع حوادث احتمالی جلوگیری گردد.

## د سرپل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۲۵ زیانمنو کورنیو ته خوراکي مرستې ووېشلې



د سرپل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست، د یاد ولایت اړوند ۲۵ کورنیو ته، چې د طبیعي او غیرطبیعي پېښو له امله زیانمنې شوې وې، له ارزونې وروسته خوراکي مرستې ووېشلې.
په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته د مسؤلینو په شتون کې ۲ بورۍ غنم او ۲۰ کیلو بوره ووېشل شوه.

## د ننګرهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۴۲ کورنیو ته نغدې مرستې وویشلې



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د ماشومانو د ساتنې موسسې ترمنځ د لاسلیک شوي هوکړه لیک له مخې، د ننګرهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادې موسسې په مالي همکارۍ، د دې ولایت د مهمندرې ولسوالۍ په بېلې کلي کې د سیند تر ګواښ لاندې سیمه کې اوسېدونکو کورنیو ته نغدې مرستې ووېشلې.
په دې لړۍ کې هرې مستحقې کورنۍ ته د مسؤلینو په شتون کې، ۱۰،۸۵۰ افغانۍ ووېشل شوې، چې د نغدو مرستو ټولیزه اندازه څلور سوه او پنځه پنځوس زره او اووه سوه (۴۵۵،۷۰۰) افغانۍ کیږي.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت لوگر برای ۳۸ خانواده آسیب‌دیده کمک‌های نقدی و مواد غیر غذایی توزیع کرد





بر اساس هماهنگی اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث با دفاتر WFP, UNICEF, IOM و DRC، ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت لوگر با حمایت مالی دفاتر متذکره، برای ۳۸ خانواده که از اثر سیلاب‌های اخیر در مرکز و ولسوالی‌های محمد آغه و خوشی آسیب‌دیده بودند، کمک‌های نقدی و مواد غیر غذایی توزیع کرد.
در این پروسه بعد از سروی با حضور مسؤلان، از طرف سازمان جهانی غذا (WFP)، به هر خانواده مبلغ ۵۸۰۰ افغانی، از طرف صندوق حمایت از کودکان سازمان ملل متحد (UNICEF)، به هر خانواده یک کارتن کیت البسه، از طرف سازمان بین‌المللی مهاجرت (IOM)، به هر خانواده
۳ تخته کمپل، ۱ بسته کیت آشپز خانه، ۲ تخته سولر و از طرف دفتر DRC به هر خانواده مبلغ ۱۰۸۰۰ افغانی توزیع گردید.

## د بامیان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۸۰۰ مستحقو کورنیو ته نغدي مرستې ووېشلې




له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او په آسیا کې د نړۍ تولنیزو خدمتونو (CWSA) موسسې ترمنځ د لاسلیک شوې هوکړه لیک له مخې، د بامیان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادې موسسې په مالي ملاتړ، د دې ولایت د یکه ولنګ نمبر ۱ ولسوالۍ ۸۰۰ مستحقو کورنیو ته له سروې وروسته د پنځم پړاو نغدي مرستې ووېشلې.
په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته د مسؤلینو په شتون کې، ۲,۵۹۴ افغانۍ ووېشل شوې، چې ټولټال دوه میلیونه او پنځه اویا زره او دوه سوه (۲,۰۷۵,۲۰۰) افغانۍ نغدې پیسې د یاد شمېر کورنیو لپاره ځانګړې شوې وې.

## کشف و خنثی‌سازی مواد انفجار ناشده در ولایت فراه




ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت فراه با همکاری تخنیکی بخش ماین‌پاکی دفتر DRC ماین های ضدتانک و مرمی‌های مختلف را کشف و به گونه مصوون خنثی نمود.
ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت فراه از مردم خواست در صورت مشاهده اشیای مشکوک، از نزدیک شدن به آن خودداری کرده و موضوع را به نهادهای مسئول گزارش دهند.

## د بادغیس ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د ۲۷۰ کسانو لپاره ګرم خواړه او لنډمهاله سرپناه برابره کړه



د بادغیس ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست، د یاد ولایت په مرکز قلعه نو کې د وروستیو سېلابونو له امله زیانمنو ۲۷۰ کسانو ته د یو وخت ګرم خواړه ووېشل، همدارنګه هغو کورنیو ته چې کورونه یې د سېلابونو له امله له لاسه ورکړي وو، خیمې هم ووېشلې.
یاد ریاست د زیانمنو سیمو سروې هم پیل کړې ده او هڅه کوي چې د اړوندو بنسټونو په همکارۍ د زیانمنو لپاره نورې مرستې هم برابرې کړي.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت کابل برای ۱۰ ورثه شهید و زخمی کمک‌های نقدی توزیع کرد



به اساس هدایت مقام اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث، ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت کابل برای ۱۰ خانواده مربوط ناحیه‌های سیزدهم و دوم این ولایت که اعضای خانواده شان از اثر فرو ریختن منازل در جریان بارندگی‌های اخیر شهید و زخمی شده بودند، کمک‌های نقدی توزیع نمود.
در این روند با حضور مسؤلان، برای ۶ ورثه شهید به هر کدام مبلغ ۲۰،۰۰۰ افغانی و برای ۴ تن زخمی به هر یک مبلغ ۱۰،۰۰۰ افغانی توزیع گردید که در مجموع یک‌صد و شصت هزار (۱۶۰،۰۰۰) افغانی برای این خانواده‌ها اختصاص داده شده بود.

## د فراه ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ۱۰۰ زیانمنو کورنیو ته غیرخوراکي مرستې ووېشلې




د فراه ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د کډوالۍ نړیوال سازمان (IOM)، په یاد ولایت کې د وروستیو سېلابونو له امله ۱۰۰ زیانمنو کورنیو ته غیرخوراکي مرستې ووېشلې.
په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته د مسؤلینو په شتون کې یوه فامیلي بسته، پتو، سولر او یوه ژمنۍ بسته ووېشل شوه. همدارنګه، ۷۱ کورنیو ته چې کورونه یې په بشپړ ډول ویجاړ شوي وو، هرې کورنۍ ته یو باب خیمه هم ووېشل شوه.

## د بادغیس ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۱۶ سېلاب ځپلو کورنیو ته غیر خوراکي مرستې ووېشلې





د بادغیس ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یاد ولایت په مرکز کې د وروستیو سېلابونو له امله ۱۶ زیانمنو شویو کورنیو ته له سروې وروسته د غیر خوراکي توکو مرستې ووېشلې.
په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته د مسؤلینو په شتون کې، ۱ باب خیمه وویشل شوه.

## کتله سنگ معلق در ولسوالی دره به‌گونه مصئون از بین برده شد




ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت پنجشیر، کتله سنگ بزرگ و معلقی را که تهدید جدی برای ساکنان قریه زردی تمبنه ولسوالی دره بود، به‌گونه مصئون از بین برد.
گفتنی است که کار پارچه‌سازی این سنگ در چارچوب فعالیت‌های وقایوی و به‌منظور کاهش خطرات طبیعی آغاز و به‌صورت عملی تطبیق گردیده است. این سنگ پیش از این تهدید جدی برای جان باشندگان محل به‌شمار می‌رفت که با اقدام به‌موقع، خطر آن به‌طور کامل رفع شد.
قابل ذکر است که این پروژه از سوی ریاست آمادگی مبارزه با حوادث و همکاری نزدیک مردم محل اجرا شده و نشان‌دهنده روحیه همبستگی و مشارکت مردم در کاهش خطرات طبیعی است.

## د لغمان ولایت په سنګره دره کې د یوې بندې لارې د پاکولو کار بشپړ او بېرته پرانېستل شوه




د لغمان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د ولایت د محترم مقام د لارښوونې پر بنسټ، د سنګره درې د کلمان سیمې اړوند په لمټک او فارج کلیو کې د بندو شویو لارو د پاکولو بهیر په بریالیتوب سره بشپړ کړ او دا لاره یې د دوه یم ځل لپاره د ترافیکو پر مخ پرانېسته.
د مسؤلینو په وینا، تېره ورځ د غره د ښویېدو له امله ځو لویې ډبرې سړک ته را لوېدلې وې چې تګ راتګ یې بند کړی و. تخنیکي ټیم تېره ورځ د پرله پسې هڅو په ترڅ کې دا ډبرې له لارې څخه لرې کړې او سړک یې بېرته عادي حالت ته راوګرځاوه.
د لغمان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست محترم رئیس، قاري خیرمحمد غازي، له تخنیکي ټیم سره یو ځای سیمې ته تللی او د کار بهیر یې له نیږدې ځارلی دی. هغه وویل چې د مسؤلو کارکوونکو د پر وخت اقدام له امله، لاره په لنډ وخت کې بېرته پرانېستل شوه.
د پاکولو او هوارولو له بشپړېدو وروسته، دغه سړک یو ځل بیا د تګ راتګ لپاره چمتو شوی او د سیمې د اوسېدونکو ستونزې حل شوې دي.
مسؤلین زیاتوي چې د دې لارې بیا پرانېستل د خلکو تګ راتګ اسانه کړی او د ترافیکي پېښو د احتمالي رامنځته کېدو مخه به ونیسي.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت بادغیس برای ۷۳ خانواده آسیب‌دیده کمک‌های خوراکی و غیر خوراکی توزیع کرد



ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت بادغیس برای ۷۳ خانواده که از اثر بارندگی‌ها و سیلاب در مرکز آن‌ولایت آسیب‌دیده بودند، بعد از سروی کمک‌های خوراکی و غیر خوراکی توزیع کرد.

در این پروسه با حضور مسؤلان، برای ۱۹ خانواده که منازل‌شان به‌گونه کلی تخریب شده بود به هر کدام یک باب خیمه، ۲ بوری گندم ۵۰ کیلویی، ۴ تخته کمپل و یک کیلو چای سیاه و برای ۵۴ خانواده که منازل‌شان قسمی تخریب شده بود به هر یک ۲ بوری گندم ۵۰ کیلویی، ۴ تخته کمپل و یک کیلو چای سیاه توزیع گردید.

## د بغلان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۴۰۰ سېلاب ځپلو، راستنېدونکو او د معلولینو کورنیو ته خوراکي مرستې ووېشلې



د بغلان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د مدنیت مؤسسې په ملاتړ، ۴۰۰ سېلابځپلو، راستنېدونکو او د معلولینو کورنیو ته له سروې وروسته خوراکي مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې د یاد ولایت د رئیس محترم مولوي هدایت همدرد په شتون کې، ۱۰۰ سېلاب ځپلو، ۱۵۰ د معلولینو او ۱۵۰ راستنېدونکو کورنیو هرې یوې ته ۵۰ کیلو اوړه، ۶ کیلو وریجې، ۵ لیتره غوړي، یو پاکټ آش، ۵ کیلو مکروني، ۵ لیتره مایع ظرف شويي، ۵ کیلو بوره او یو پاکټ چاکلیټ ووېشل شوې.

## کشف و خنثی سازی مواد انفجار ناشده در ولایت فراه



ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت فراه با همکاری تخنیکی دفتر (DRC) یک حلقه ماین خوشه ای را در قریه آب‌خرما از مربوطات ولسوالی فراه‌رود، کشف و به گونه مصوون خنثی نمود.

مسئولان آن ریاست با اشاره به خطرات جدی مواد انفجاری برای غیرنظامیان، به‌ویژه کودکان، از باشندگان خواسته‌اند در صورت مشاهده اشیای مشکوک، از نزدیک شدن خودداری کرده و موضوع را به نهادهای مسئول گزارش دهند.

# ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت سمنگان برای ۵۰۰ خانواده مستحق مواد غذایی توزیع کرد




بر اساس تفاهم‌نامه امضاء شده میان اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث و مؤسسه ASIO با حمایت مالی سازمان جهانی غذا(W-FP)، ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت سمنگان با حمایت تخنیکی مؤسسه متذکره، در مرحله سوم توزیع مواد غذایی، برای ۵۰۰ خانواده مستحق در ولسوالی فیروزنخچیر، کمک‌های خوراکی توزیع نمود.

در این روند با حضور مسؤلان، به هر خانواده ۵۰ کیلو آرد، ۶.۲۵ کیلودال‌نخود، ۴.۵۵ لیتر روغن و نیم کیلو نمک توزیع شد.

## د باميان ولايت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ رياست ۱,۹۰۰ مستحقو کورنيو ته نغدي مرستې ووېشلې

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د CWSA مؤسسې ترمنځ د لاسليک شوي هوکړه ليک له مخې، د باميان ولايت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ رياست د يادې مؤسسې په ملاتړ، د دې ولايت په مرکز کې ۱۹۰۰ مستحقو کورنيو ته له سروې وروسته نغدي مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته د مسؤلينو په شتون کې، ۲،۵۹۴ افغانۍ ووېشل شوې، چې ټولټال د ياد شمېر کورنيو لپاره څلور ميليونه او نه لکه او اته ويشت زره او شپږ سوه (۴،۹۲۸،۶۰۰) افغانۍ نغدي پيسې ځانګړې شوې وې.




## د پکتيا ولايت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ رياست ۷۷۳ بېځايه شويو کورنيو ته نغدي او غير خوراکي مرستې ووېشلې




د پکتيا ولايت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ رياست د WFP, UNICEF اوUNHCR، دفترونو په ملاتړ، د ياد ولايت په احمدخيل ولسوالۍ کې ۷۷۳ بېځايه شويو کورنيو ته له سروې وروسته نغدي او غير خوراکي مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې د مسؤلينو په شتون کې، د WFP دفتر له لوري هرې کورنۍ ته ۵۸۰۰ افغانۍ ووېشل شوې، چې ټولټال د ياد شمېر کورنيو لپاره څلور ميليونه او څلور لکه او اته دېرش زره او څلور سوه (۴,۴۳۸,۴۰۰) افغانۍ ځانګړې شوې وې، همدارنګه د UNHCR او CHA مؤسسې لخوا ۱۰۰ کورنيو هرې يوې ته يو باب خېمه ووېشل شوه.

## د کندهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۲۷۹ زیانمنو کورنیو ته خوراکي او غیر خوراکي مرستې ووېشلې



د کندهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د IOM ، Intersos ، WFP او UNFPA دفترونو په ملاتړ، د وروستیو سختو بارانونو د ورېدو له امله ۲۷۹ زیانمنو کورنیو ته له سروې وروسته خوراکي او غیر خوراکي مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې د مسؤلینو په شتون کې د IOM دفتر له لوري هرې کورنۍ ته ۳ تختې توشکې، ۱ عدد سولري څراغ، یو د پخلنځي کیټ او همدارنګه ۴۲ کورنیو ته خېمې، د WFP دفتر لخوا د HOPA مؤسسې په تخنیکي همکارۍ هرې کورنۍ ته ۲۰۰ کیلو اوړه، ۲۰ لیتره غوړي، ۲۵ کیلو دال نخود، ۴۲ بستې بیسکویټ او ۲ کیلو مالګه، د UNFPA مؤسسې له لوري هرې کورنۍ ته ۲ تختې ترپال او د Intersos مؤسسې له لوري هرې کورنۍ ته روغتیایي بستې ووېشل شوې.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت بادغیس برای ۱،۸۰۳ خانواده آسیب‌دیده مساعدت نقدی توزیع نمود

بر اساس تفاهم‌نامه‌ای امضاء شده میان اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث و دفتر WASSA، ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت بادغیس، با حمایت مالی دفتر متذکره، مرحله سوم کمک‌های نقدی را برای ۱۸۰۳ خانواده آسیب‌دیده از خشکسالی در شهر قلعه‌نو توزیع کرد.

در این روند با حضور مسئولان، به هر خانواده مبلغ ۲،۹۰۰ افغانی به‌صورت نقدی توزیع شد که در مجموع مبلغ پنج میلیون‌و دو صدو بیست‌و هزارو هفت‌صد (۵،۲۲۸،۷۰۰) افغانی پول نقد برای این تعداد خانواده‌ها اختصاص یافته بود.




## د سمنګان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۲،۶۰۰ زیانمنو کورنیو ته خوراکي مرستې ووېشلې



د سمنګان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د خوړو د نړیوال پروګرام (WFP) په ملاتړ، د یاد ولایت په خلم ولسوالۍ کې د وچکالۍ له امله ۲،۶۰۰ زیانمنو کورنیو ته له سروې وروسته خوراکي مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته د مسؤلینو په شتون کې، یوه بوجۍ ۵۰ کیلویي اوړه، ۴.۵۵ لیتره غوړي، ۶.۲۵ کیلو دال نخود او نیم کیلو مالګه ووېشل شوه.

## د خوست ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۱,۳۹۱ داخلي بېځایه شویو کورنیو ته نغدي او غیرخوراکي




د خوست ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د GAALO او CHA مؤسسو په ملاتړ، له ګاونډي هېواد سره د وروستیو جګړو له امله د دې ولایت مرکز او اړوندو سیمو ته داخلي بېځایه شویو ۱,۳۹۱ کورنیو ته له سروې وروسته نغدي او غیر خوراکي مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې د مسؤلینو په شتون کې د GAALO مؤسسې له لوري ۵,۸۰۰ افغانۍ ووېشل شوې، چې ټولټال د یاد شمېر کورنیو لپاره اته میلیونه او اوه شپېته زره او اته سوه (۸,۰۶۷,۸۰۰) افغانۍ ځانګړې شوې وې، همدارنګه د CHA مؤسسې لخوا ۲۳۰ کورنیو ته، چې ډېرې زیانمنې شوې وې او د سر پناوو له جدي ستونزو سره مخ وې هرې یوې ته یو باب خېمه او د برېښنا تولیدوونکي واړه وسایل ووېشل شول.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت کابل برای ۲۹ خانواده آسیب‌دیده کمک‌های غیرخوراکی توزیع کرد




بر اساس تفاهم‌نامه امضا شده میان اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث و مؤسسه انترساس، ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت کابل با حمایت مالی این مؤسسه، برای ۲۹ خانواده آسیب‌دیده در ولسوالی ده‌سبز این ولایت که از اثر بارندگی‌های اخیر متضرر شده بودند، کمک‌های غیرخوراکی توزیع کرد.

در این روند، با حضور مسئولین، به هر خانواده یک بسته آشپزخانه، یک کارتن بسته صحی، سه متر فرش، دو دبه گاز پنج کیلویی همراه با گاز که در هر دبه چهار کیلو گاز موجود بود، یک عدد جارو، یک عدد برس، دو عدد چراغ و یک تخته ترپال توزیع شد.

در پایان، خانواده‌های دریافت‌کننده کمک‌ها از ریاست آمادگی مبارزه با حوادث این ولایت به‌خاطر رسیدگی به‌موقع و توزیع کمک ها ابراز خوشی نمودند.

## د بغلان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست۵۰۰ مستحقو کورنیو ته خوراکي  مرستې ووېشلې




له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د (ASIO) مؤسسې ترمنځ د لاسلیک شوې هوکړه لیک له مخې، چې د پروژې تمویل کوونکي يې د خوړو نړیوال پروګرام (WFP) دی، د بغلان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادې مؤسسې په ملاتړ، د دې ولایت په خنجان ولسوالۍ کې۵۰۰ مستحقو کورنیو ته د درېیم پړاو خوراکي  توکو مرستې له سروې وروسته ووېشلې .

په دې لړۍ کې د مسؤلینو په شتون کې هرې کورنۍ ته ۵۰ کیلو اوړه، ۵ لیتره غوړي او ۶.۲۵ کیلو دال ووېشل شو.

## د بادغیس ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۵۹ زیانمنو کورنیو ته غیر خوراکي مرستې ووېشلې




د بادغیس ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د IOM، اکشن ایډ او د ملګرو ملتونو د نفوس صندوق (UNFPA) دفترونو په مالي ملاتړ، د یاد ولایت په مرکز کې د وروستیو سېلابونو له امله ۵۹ زیانمنو کورنیو ته له سروې وروسته غیر خوراکي مرستې ووېشلې.
په دې لړۍ کې د مسؤلینو په شتون کې، د IOM دفتر له لوري هرې کورنۍ ته ۳ تختې کمپلې، یوه ژمنۍ بسته، یوه بسته د پخلنځي کیټ، یوه تخته پلاسلیکي فرش او ۲ بشکې، د اکشن ایډ لخوا د یونسیف په مالي ملاتړهرې کورنۍ ته یوه روغتیایي بسته او د ملګرو ملتونو د نفوس صندوق (UNFPA) په مالي ملاتړ هرې کورنۍ ته یوه (AFGA) له لوري د د ښځو او نجونو روغتیایي بسته ووېشل شوه.

---

## د کونړ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۱,۵۱۹ زلزله ځپلو او بېځایه شویو کورنیو ته نغدي او غیرخوراکي مرستې ووېشلې


د کونړ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د IRW او د DACAAR موسسو په مالي همکارۍ، د دې ولایت اړوند ۱,۵۱۹ زلزله ځپلو او د وروستیو جګړو له امله بېځایه شویو کورنیو ته له سروې وروسته نغدي او غیرخوراکي مرستې ووېشلې.
په دې بهیر کې د مسؤلینو په شتون کې د IRW موسسې له لوري ۲۵۷ زلزله ځپلو کورنیو هرې یوې ته ۵,۲۰۰ افغانۍ ووېشل شوې، چې د نغدو مرستو ټولیزه اندازه یو میلیون او درې سوه او شپږ دېرش زره او څلور سوه (۱,۳۳۶,۴۰۰) افغانۍ کېږي. همدارنګه، د DACAAR موسسې له لوري د وروستیو جګړو له امله ۱,۲۶۲ بېځایه شویو کورنیو هرې یوې ته یو عدد د حفظ الصحې کېټ ووېشل شو.




---

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت هلمند برای ۱۸۰ خانواده سیلاب‌زده مساعدت‌های غذایی توزیع کرد

بر اساس هدایت محترم الحاج ملا نورالدین ترابی، رئیس عمومی اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث، ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت هلمند برای ۱۸۰ خانواده آسیب‌دیده از سیلاب‌های اخیر در ولسوالی مارجه آن ولایت، مساعدت‌های غذایی توزیع نمود.
در این روند، برای هر خانواده یک بوری ۵۰ کیلویی گندم، یک کیت صحی، ۳ عدد سطل، ۲ عدد چراغ دستی و ۳ جوره بطری چراغ دستی توزیع گردید.



## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت کندهار برای ۱۳۵ خانواده سیلاب‌زده کمک‌های نقدی توزیع کرد




ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت کندهار با هماهنگی دفتر هماهنگی امور بشردوستانه سازمان ملل متحد (OCHA) و با حمایت مالی مؤسسات Save the Children و DRC، برای ۱۳۵ خانواده آسیب دیده از سیلاب‌های اخیر، پس از سروی کمک‌های نقدی توزیع کرد.

در این روند با حضور مسئولین، از سوی مؤسسه DRC به هر خانواده ۱۰،۷۰۰ افغانی و از سوی مؤسسه Save the Children برای ۱۲۸ خانواده به هر یک ۵،۵۰۰ افغانی توزیع شد که در مجموع مبلغ دومیلیون و یک صدو چهل‌هشت هزارو پنجصد (۲،۱۴۸،۵۰۰) افغانی پول نقد برای این تعداد خانواده‌ها اختصاص یافته بود.

قابل یادآوری است که ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت کندهار رسیدگی به خانواده‌های آسیب‌دیده را از مسئولیت‌های خود دانسته و از همکاری‌های دوامدار بشردوستانه مؤسسات همکار قدردانی می‌نماید.

## د پنجشېر ولایت په حصه اول ولسوالۍ کې د پل او سړک د تحکیم کارۍ پروژه پیل شوه





د پنجشېر ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یاد ولایت د حصه اول ولسوالۍ په عمرض غوزوې کلي کې د موټرونو د تګ راتګ، عمومي سړک او د کرنیزو ځمکو د پل د تحکیم کارۍ عملي کار پیل کړ.

دا پروژه چې ۲۲۰ زره افغانۍ لګښت لري، د پنجشېر ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست له خوا د سیمې د اوسېدونکو په همکارۍ پلي کېږي. په دې پروژه کې به د ۱۱۰ مترو په اوږدوالي د سیند د بستر تنظیم او د زیانمنو برخو ټینګښت ترسره شي، څو د عامه زېربناوو د ویجاړېدو مخه ونیول شي او کرنیزې ځمکې خوندي وساتل شي.

مسؤلین وايي، د دې پروژې پلي کېدل به د طبیعي پېښو د خطرونو په کمولو او د عامه زېربناوو په خوندي کولو کې مهم رول ولوبوي.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت جوزجان برای ۱،۸۶۸ خانواده مستحق مساعدت نقدی توزیع کرد




بر اساس تفاهم‌نامه امضا شده میان اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث و مؤسسه AWDERO، ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت جوزجان با حمایت این مؤسسه، پس از انجام سروی در بخش‌های مختلف مرکز آن ولایت، برای ۱،۸۶۸ خانواده مستحق مساعدت نقدی توزیع نمود.

در این روند، به هر خانواده در حضور مسئولین مبلغ ۲،۹۰۰ افغانی پول نقد توزیع گردید که در مجموع مبلغ پنج میلیون و چهارصد و هفده هزار و دوصد (۵،۴۱۷،۲۰۰) افغانی برای این تعداد خانواده اختصاص داده شده بود.

در پایان، خانواده‌های مستفید از این مساعدت‌ها، از مسئولین این ریاست و مؤسسه قدردانی نموده و خواستار تداوم چنین کمک‌ها شدند.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت غزنی برای ۴۳ خانواده آسیب‌دیده از سیلاب‌ها مساعدت‌های نقدی و غیرنقدی توزیع کرد




ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت غزنی، با حمایت سازمان بین المللی مهاجرت( IOM)، موسسات پاور و DRC برای ۴۳ خانواده متضرر از بارندگی‌های شدید و سیلاب‌های اخیر مربوط ولسوالی‌های گیلان، مقر، آب‌بند، قره‌باغ، ده‌یک و مرکز آن ولایت، پس از انجام سروی قبلی، مساعدت‌های نقدی و غیرنقدی توزیع گردید.
در این روند، به هر خانواده مبلغ ۱۰،۵۰۰ افغانی پول نقد از طریق مؤسسه DRC پرداخت شد؛ ازطرف موسسه پاور برای هر خانواده ۲۰۰ کیلوگرام آرد، ۲۰ لیتر روغن، ۲۵ کیلوگرام دال نخود و ۲ کیلوگرام نمک و از سوی IOM برای هر خانواده یک بسته وسایل آشپزخانه، یک بسته فامیلی و یک بسته وسایل سولری توزیع گردید.
همچنان محترم مولوی حمدالله بشیر، رئیس آمادگی مبارزه با حوادث ولایت غزنی، ضمن صحبت با خانواده‌های مستفید، اطمینان سپرد که این ریاست در آینده نیز به همکاری و رسیدگی به متضرران ادامه خواهد داد.
در پایان، خانواده‌های مستفید از این مساعدت‌ها، از تلاش‌ها و رسیدگی به‌موقع مسئولین ابراز قدردانی نموده و خواستار تداوم چنین همکاری‌ها شدند.

## د پکتیا ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د وروستیو جګړو له امله ۳۷۱ بېځایه شویو کورنیو ته نغدې، خوراکي او غیرخوراکي مرستې وویشلې




د پکتیا ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د AWCPO او د CHA موسسو په ملاتړ، د یاد ولایت په ډنډې پټان، ځمکنۍ او آریوب ځاځۍ ولسوالیو کې د وروستیو جګړو له امله ۳۷۱ بېځایه شویو کورنیو ته له سروې وروسته نغدې، خوراکي او غیرخوراکي مرستې وویشلې.
په دې بهیر کې د AWCPO موسسې له لوري د WFP دفتر په مالي ملاتړ هرې کورنۍ ته ۵،۸۰۰ افغانۍ نغدې پیسې، ۲.۱ کیلو بسکېټ او د CHA موسسې له لوري د UNHCR دفتر په مالي ملاتړ له یاد شمېر کورنیو څخه ۵۸ کورنیو هرې یوې ته یو باب خیمه او ۱۱ کورنیو هرې یوې ته ۳ تختې کمپلې، ۲ تختې ترپالونه، ۱ د پخلنځي کېټ، ۳ عدد سولري څراغ او ۲ عدد د اوبو بشکې وویشل شوې.

## د کونړ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۹۱۵ زلزله ځپلو کورنیو ته خوراکي مرستې ووېشلې





له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي اداري او د ژغورنې نړیوالې کمېټې (IRC) ترمنځ د لاسلیک شوي هوکړه لیک له مخې، د کونړ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادې موسسې په مالي همکارۍ، د دې ولایت د نورګل ولسوالۍ په مزار دره کې د تېرې زلزلې له امله ۹۱۵ زیانمنو کورنیو ته له سروې وروسته خوراکي مرستې ووېشلې.

په دې بهیر کې هرې کورنۍ ته د مسؤلینو په شتون کې ۱۷۸ کیلو اوړه، ۴۲ کیلو وریجې، ۱۸ کیلو لوبیا، ۱۴ لیتره غوړي او ۲ کیلو مالګه ووېشل شوه.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت بلخ برای ۵۶ خانواده آسیب‌دیده کمک‌های خوراکی، غیرخوراکی و نقدی توزیع کرد

ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت بلخ با حمایت سازمان IOM، دفتر WFP و مؤسسات WAK و ACTED، در ولسوالی‌ها و نواحی مختلف آن ولایت، برای ۵۶ خانواده آسیب‌دیده ناشی از بارندگی‌های اخیر، پس از سروی کمک‌های خوراکی، غیرخوراکی و نقدی توزیع کرد.

در این روند با حضور مسئولین، از سوی مؤسسه WAK به هر خانواده یک بسته صحی و یک بسته خانوادگی، از سوی سازمان IOM برای ۱۳ خانواده به هر کدام یک باب خیمه، از سوی دفتر WFP به هر خانواده ۲۰۰ کیلو آرد، ۲۵ کیلو دال، ۲۰ لیتر روغن، ۲ کیلو نمک و ۲.۱ کیلو بیسکویت و از سوی مؤسسه ACTED به هر خانواده ۱۰،۹۲۰ افغانی پول نقد توزیع شد که در مجموع مبلغ شش صدو یازده‌هزارو پنج‌صدو بیست (۶۱۱،۵۲۰) افغانی پول نقد برای این تعداد خانواده‌ها اختصاص داده شده بود.





## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت ننگرهار برای خانواده‌های ۲۹ شهید کمک نقدی توزیع کرد




به اساس هدایت محترم الحاج ملا نورالدین ترابی، رئیس عمومی اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث، ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت ننگرهار پس از انجام سروی، برای خانواده‌های ۲۹ تن از شهدای ناشی از بارندگی‌های شدید و سیلاب‌های اخیر در ولسوالی‌های مختلف آن ولایت کمک نقدی توزیع نمود.

در این روند، به هر خانواده شهید در حضور مسئولان مبلغ ۲۰،۰۰۰ افغانی پرداخت گردید که در مجموع، مقدار این کمک ها به مبلغ پنج صد و هشتادهزار( ۵۸۰،۰۰۰) افغانی می‌رسد.

## د بدخشان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۹۶ مستحقو کورنیو ته له سروې وروسته خوراکي مرستې وویشلې




د بدخشان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د دې ولایت په تشکان ولسوالۍ کې ۹۶ مستحقو کورنیو ته له سروې وروسته د خوراکي توکو مرستې وویشلې.
په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته د مسؤلینو په شتون کې، یوه بوری ۵۰ کیلویي اوړه او یوه بورۍ ۲۵ کیلویي وریجې وویشل شوې.
په پای کې د مرستو تر لاسه کوونکو کورنیو د یاد ریاست له مسؤلینو څخه مننه وکړه او د ورته مرستو د دوام غوښتونکي شول.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت فراه برای ۱۸۵ خانواده سیلاب‌زده کمک‌های غذایی و غیرغذایی توزیع کرد




به اساس هدایت محترم الحاج ملا نورالدین ترابی، رئیس عمومی اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث، ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت فراه، پس از سروی، برای ۱۸۵ خانواده آسیب‌دیده ناشی از بارندگی‌ها و سیلاب‌های اخیر در ولسوالی جوین آن ولایت، کمک‌های مواد غذایی و غیرغذایی توزیع کرد.
در این روند، با حضور مسئولین، به هر خانواده یک بوری ۵۰ کیلویی گندم، یک صندوق، نیم کیلو چای سیاه توزیع شد.
ریاست آمادگی مبارزه با حوادث تأکید می‌کند که روند رسیدگی به خانواده‌های آسیب‌دیده از حوادث طبیعی همزمان با سروی ادامه دارد و تلاش می‌شود تا زمینه مساعدت‌های بیشتر برای خانواده‌های متضرر فراهم گردد.

## د سمنګان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۳,۵۲۸ مستحقو کورنیو ته نغدي مرستې وویشلې




له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د (ASIO) مؤسسې ترمنځ د لاسلیک شوي هوکړه لیک له مخې، چې د پروژې تمویل کوونکی یې د خوړو نړوال پروګرام WFP دی، د سمنګان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د دې ولایت په مرکز کې ۳۵۲۸ مستحقو کورنیو ته د وچکالۍ له امله زیانمنو شویو کورنیو ته د WFP بیړنیو بشردوستانه مرستو تر سرلیک لاندې د دریم پړاو نغدي مرستې وویشلې.
په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته د مسؤلینو په شتون کې، ۲,۹۰۰ افغانۍ وویشل شوې، چې ټولټال د یاد شمېر کورنیو لپاره لس میلیونه او دوه لکه او یو دېرش زره او دوه سوه (۱۰،۲۳۱،۲۰۰) افغانۍ نغدي پیسې ځانګړې شوې وې.

## د هلمند ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادگۍ ریاست ۲۳۷ سیلاب ځپلو کورنیو ته نغدې، خوراکي او غیرخوراکي مرستې ووېشلې



د هلمند ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادگۍ ریاست د انتېرساس، WFP، SI، IOM او UNICEF سازمانونو په مالي همکارۍ، د دې ولایت د گرمسیر او گریشک ولسوالیو اړوند ۲۳۷ کورنیو ته چې د وروستیو بارانونو او سیلابونو له امله زیانمنې شوې وې، له سروې وروسته نغدې، خوراکي او غیرخوراکي مرستې ووېشلې.
په دې بهیر کې د مسؤلینو په شتون کې، له پېښو سره د مبارزې آمادگۍ ریاست له لوري له یاد شمېر کورنیو څخه ۴۵ کورنیو هرې یوې ته یوه بوری ۵۰ کیلویي غنم، یو عدد روغتیایي کېټ، ۴ عدد سطلونه، د IOM سازمان له لوري ۱۶۳ کورنیو هرې یوې ته یو باب خیمه، د UNICEF سازمان له لوري ۱۹۲ کورنیو هرې یوې ته د پخلنځي یو کېټ، یو تخته پلاستیکي فرش، د WFP دفتر له لوري ۱۹۲ کورنیو هرې یوې ته ۲۰۰ کیلو اوړه، ۲۵ کیلو دالنخود، ۱۸.۲ کیلو غوړي، ۲ کیلو مالگه، ۲.۱ کیلو بسکېټ، د انتر ساس موسسې له لوري ۱۹۲ کورنیو هرې یوې ته ۱ روغتیایي کېټ، ۱ د حفظ الصحې کېټ، ۲ تختې کمپلې او ۸۵ کورنیو هرې یوې ته ۵،۸۰۰ افغانۍ او د SI موسسې له لوري ۱۹۲ کورنیو هرې یوې ته ۵،۴۰۰ افغانۍ ووېشل شوې، چې د نغدو مرستو ټولیزه اندازه یو میلیون او پنځه سوه او نه ویشت زره او اته سوه (۱،۵۲۹،۸۰۰) افغانۍ کېږي.

## د کندهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادگۍ ریاست ۷۵ زیانمنو کورنیو ته خوراکي او غیر خوراکي مرستې ووېشلې

د کندهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادگۍ ریاست د WFP، IOM، UNFPA او INTERSOS دفترونو په ملاتړ او د OCHA دفتر په همغږۍ، د وروستیو سختو بارانونو له امله ۷۵ زیانمنو کورنیو ته له سروې وروسته خوراکي او غیر خوراکي مرستې ووېشلې.



په دې لړۍ کې د مسؤلینو په شتون کې د IOM دفتر له لوري هرې کورنۍ ته ۳ تختې توشکې، ۱ عدد سولري څراغ، یو د پخلنځي کیټ او له یاد شمېر کورنیو څخه ۲۸ کورنیو هرې یوې ته ۱ باب خیمه، د WFP دفتر په مالي ملاتړ د HOPA مؤسسې په تخنیکي همکارۍ هرې کورنۍ ته ۲۰۰ کیلو اوړه، ۲۰ لیټره غوړي، ۲۵ کیلو دال نخود، ۴۲ بستې بیسکېټ او ۲ کیلو مالگه، د UNFPA مؤسسې له لوري هرې کورنۍ ته ۲ تختې ترپالونه او د INTERSOS مؤسسې له لوري هرې کورنۍ ته د حفظ الصحې INTERSOSبستې او ۲ تختې توسان ووېشل شول.

## د لغمان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۲۶۰ کورنیو ته خوراکي مرستې ووېشلې

د لغمان ولایت د محترم مقام په لارښوونه، د یاد ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۲۶۰ مستحقو کورنیو ته خوراکي مرستې ووېشلې.

په دې بهیر کې د مسؤلینو په شتون کې هرې کورنۍ ته ۱۰۰ کیلو غنم ووېشل شول.

له مرستو برخه منو له دغو مرستو خوښي وښوده او ویې ویل چې دا ډول مرستې کولای شي د هغوی د ژوند لومړنۍ ستونزې تر یوه حده راکمې کړي.



## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت سرپل برای ۵۸۰ خانواده مساعدت نقدی توزیع کرد



بر اساس تفاهم‌نامه امضاء شده میان اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث و مؤسسه ماهو، ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت سرپل با حمایت مالی مؤسسه متذکره برای ۵۸۰ خانواده در ولسوالی سیدآباد آن‌ولایت، بعد از سروی مساعدت نقدی توزیع کرد.

در این پروسه با حضور مسؤلان، به هر خانواده مبلغ ۲۹۰۰ افغانی توزیع شد که در مجموع مبلغ یک‌میلیون‌و شصت‌و صدو هشتادو هزار (۱،۶۸۲،۰۰۰) افغانی پول نقد برای این تعداد خانواده‌ها اختصاص یافته بود.

## عامه پیغامونه :

25. مخکې له دې چې تاسو له ډېر ځاني او مالي زیان سره مخ شۍ، په کم لګښت د خطرونو مخنیوی وکړئ.

26. څوک چې په دې دنیا کې یو څوک خوشحاله کړي، الله ج به هغه د قیامت په ورځ خوشحاله او وخندوي (الحدیث)

27. هره کوچنۍ پروژه چې په کم لګښت ترسره کېږي, د کلي خلک دې حکومت او موسسو ته نه په تمه کېږي, بلکې په ګډ کار(حشر) او انداز سره دې د هغې پروژې کار ترسره کړي